بسم الله الرحمن الرحیم

د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمریت
آمریت عمومی نظارت از مؤسسات مالی غیر بانکی

شماره: ۹۲۸۹
تاریخ: ۱۴۴۶/۸/۱۰
۹/۱۱/۱۴۰۳

DA AFGHANISTAN BANK

د افغانستان بانک

**د سرای شهزاده صرافانو او پولي خدمتونو قدرمنې اتحادیې ته!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته،

**موضوع:** د نرخ ټاکلو ځانګړې بازار د کړنلارې په اړه

ستاسو د ۱٦۹/۱۵۱ ګڼې ۱۴۰۳/۱۱/۱٦ نېټې لیک په ځواب کې لیکل کیږي:

د نرخ ټاکلو ځانګړې بازار د تنظیمولو لپاره د یادې اتحادیې له لورې په ۹ پاڼو کې ترتیب شوې کړنلاره د افغانستان بانک لخوا تایید ده.

په دې توګه، د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړې بازار د تنظیمولو کړنلاره د تایید څخه وروسته تاسو ته د وروستیو کړنو لپاره در واستول شوه او یاده کړنلاره دې په زونونو او ولایاتو کې د صرافیو او پولي خدمتونو اتحادیو سره د تطبیق په موخه شریکه شي.

**دافغانستان بانک په چارو کې ستاسو د لا بریاوو غوښتوونکی دی.**

په درښت

۱۴۴٦/۸/۹

صدیق الله خالد

**د افغانستان بانک لومړی مرستیال او سرپرست**

**ضمیمه:** د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړې بازار د تنظیمولو کړنلاره (۹) پاڼو کې.

**کاپی:** د بازار عملیاتو قدرمن لوی آمریت ته.

د افغانستان بانک، ابن سیناوات، کابل افغانستان/ تیلیفون ۲۱۰۲۷٦۱ (۲۰) ۰۰۹۳ / ایمیل: info@dab.gov.af / ویب سایت www.dab.gov.af
شبکه های اجتماعی فیسبوک - د افغانستان بانک / تویتر - AFGCentralbank@ / انستاگرام - AFGCentralbank

اتحادیه د شهزاده سرای د صرافانو او پولي خدمتونو

اتحادیه صرافان و خدمات پولی سرای شهزاده

**Money & MSPS Union of Shahzada Exchange Market**

تاریخ: ۱۴۰۳/۱۱/۱۶

شماره: ۱۵۱/۱۶۹

به مقام محترم ریاست د افغانستان بانک!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته:

بالاثر مکاتب شماره (۵۲۳٤/۷۲۰٦) مورخ ۱٤٤٥/٦/۲۰ ، شماره (۳۵۰۹/٤۷۲۳) مورخ ۱٤٤٦/٤/۲٤و شماره (٤۷۲۷/٦٤۷۳) مورخ ۱٤٤٦/٦/۲ اداره محترم شما نگاشته میشود.

اینک کاپی طرز العمل در قید چهارده ماده (د اسعارو د نرخ تاکلو ځانگړی بازار د تنظیمولو کرنلارم) بعد از ارایه نظریات صرافان جهت اجرات بعدی برای شما ارسال گردید.

با احترام

الحاج بهرام خان ځدران

رئیس اتحادیه صرافان و خدمات پولی سرای شهزاده

د افغانستان اسلامي امارت
دافغانستان بانک
Da Afghanistan Bank
Governor's office Department
وارده ۶۷۶۱ تاریخ ۱۴۴۶/۸/۵

+93 (0) 202 10 59 50
bahrankhanzedran531@gmail.com
+93 (0) 787 28 70 00
سرای شهزاده، کابل افغانستان

د شهزاده سرای د صرافانو او پولی خدمتونو د اتحادیې تولنې
ریاست اتحادیه صرافان و خدمات پولی سرای شهزاده

# د اسعارو د نرخ ټاکلو ځانګړې بازار د تنظیمولو کړنلاره

۱۴۴۶

۱۴۰۳

# فهرست مطالب


مقدمه ........ ۲

فصل اول: عمومیات

مبنی ........ ۲
ماده اول: ........ ۲
هدف ........ ۲
ماده دوم: ........ ۲
ساحه تطبیق ........ ۳
ماده سوم ........ ۳
اصطلاحات ........ ۳
ماده چهارم ........ ۳

فصل دوم: چگونگی ایجاد و شرایط بازار اختصاصی

ساختار بازار اختصاصی ........ ٤
ماده پنجم: ........ ٤
تنظیم کننده امور بازار اختصاصی ........ ٤
ماده ششم: ........ ٤
وظایف و مکلفیت های سکرتریت بازار اختصاصی ........ ٥
ماده هفتم ........ ٥
وظایف و مکلفیت های کارکن امنیتی ........ ٦
ماده هشتم: ........ ٦
شرایط اشتراک در بازار اختصاصی ........ ۷
ماده نهم ........ ۷
نحوه تعیین نرخ مبادله ........ ۸
ماده دهم: ........ ۸
اوقات کاری بازار اختصاصی ........ ۸
ماده یازدهم: ........ ۸

فصل سوم: رسیدگی به شکایات و مشکلات

ماده دوازدهم: ........ ۹
تعدیل طرزالعمل ........ ۹
ماده سیزدهم ........ ۹
انفاذ ........ ۹
ماده چهاردهم: ........ ۹

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین!

## اسعارو د تبادلې نرخ د ټاکلو ځانګړي بازار د تنظیمولو کړنلاره

**سریزه**

دا چې په افغانستان کې د صرافیو او پولي خدمتونو په مارکېټونو کې د اسعارو د تبادلې نرخونه د بولي په نوم ځانګړي ځای کې ټاکل کېږي، او یاد بهیر په دودیز ډول ترسره کېږي. له همدې امله، د افغانستان بانک د لید لوري په اساس د یاد بازار د تنظیم، روڼتیا او میکانیزه کولو لپاره یو لړ شرایط وضع شوي دي.

د افغانستان بانک د لارښوونې له مخې، د شهزاده سرای اتحادیه مکلفه شوې ده چې په دې برخه کې یو جامع کړنلاره ترتیب کړي او د هغه مطابق په ټول هېواد کې د صرافۍ او پولي خدمتونو په مارکېټونو کې د اسعارو د تبادلې ځانګړي بازارونه (چې په دې کړنلاره کې د ځانګړي بازار په نوم یادیږي) جوړ کړي او اړوند چارې دې د یاد کړنلارې مطابق تنظیم کړي.

په همدې اساس، په شهزاده سرای کې د صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو اتحادیې د نورو صرافیو او پولي خدمتونو له اتحادیو سره په همغږۍ دغه کړنلاره ترتیب کړې ده.

### لومړی څپرکی
### عمومیات

**بنسټ (مبنی)**

**لومړۍ ماده:**

دا کړنلاره د افغانستان بانک د ۴۷۲۳ شمېره د ۱۴۴۶/۰۴/۲۴ نېټې متحدالمال کې ذکر شوې شرایطو او لارښوونو پر بنسټ ترتیب شوی دی.

**موخه**

**دوهمه ماده:**

د دې کړنلارې موخې لږ تر لږه لاندې موارد شاملیږي:

۱- د افغانستان په اسعاري مارکېټونو کې د اسعارو د تبادلې نرخ ټاکلو لپاره ځانګړي معیاري بازارونو رامنځته کول؛

۲- د اسعارو د نرخ ټاکلو د ځانګړي بازار د چارو تنظیم؛

۳- د اسعارو د تبادلې نرخ د یو واحد آدرس څخه نشرول.

## طرزالعمل تنظیم بازار اختصاصی تعیین نرخ تبادله اسعار

**مقدمه**

از آنجائیکه در مارکیت های صرافی ها و خدمات پولی افغانستان، نرخ های تبادله اسعار در محل خاص بنام بولی، تعیین میگردید و در چنین بازار ها این روند بشکل عنعنوی صورت میگیرد، از اینرو حسب لزوم دید د افغانستان بانک جهت تنظیم، شفافیت و مکانیزه شدن بازار یاد شده، یک سلسله شرایط وضع گردیده است.

حسب هدایت دافغانستان بانک، اتحادیه سرای شهزاده، مکلف گردیده تا در زمینه، طرزالعمل جامع را تدوین و متعاقباً مطابق آن در تمام مارکیت های صرافی و خدمات پولی ولایات کشور بازار اختصاصی تعیین نرخ تبادله اسعار (که در این طرزالعمل بنام بازار اختصاصی یاد می شود) ایجاد و امور مربوط مطابق آن تنظیم گردد.

بنابرین، اتحادیه شرکت های صرافی و خدمات پولی سرای شهزاده در هماهنگی با سایر اتحادیه های صرافی ها و خدمات پولی، این طرزالعمل را تدوین نموده است.

### فصل اول
### عمومیات

**مبنی**

**ماده اول:**

این طرزالعمل به اساس شرایط و رهنمود مندرج متحدالمال شماره ۴۷۲۳ مورخ ۱۴۴۶/۰۴/۲۴ دافغانستان بانک تدوین گردیده است.

**هدف**

**ماده دوم:**

اهداف این طرزالعمل حد اقل شامل موارد ذیل می باشد:

۱- ایجاد بازار های معیاری اختصاصی جهت تعیین نرخ تبادله اسعار در مارکیت های اسعاری افغانستان؛

۲- تنظیم امور بازار اختصاصی تعیین نرخ تبادله اسعار؛ و

۳- نشر نرخ تبادله اسعار از آدرس واحد.

## د تطبیق ساحه

**دریمه ماده:**

په افغانستان کې د صرافیو او پولي خدمتونو ټولي اتحادیې اړې دي چې د دې کړنلارې مطابق د اسعارو د تبادلې ځانګړي بازارونه تنظیم او د دې کړنلارې احکامو سره سم فعالیت ترسره کړي.

## اصطلاحات

**څلورمه ماده:**

په دې کړنلاره کې لاندې اصطلاحات د لاندې مفاهیمو څرګندونه کوي:

**۱- د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت:** هغه شخص یا اشخاص چې د افغانستان بانک څخه د صرافۍ او پولي خدمتونو د فعالیت جواز ترلاسه کړی وي او د اړوند قانون او مقررې مطابق مجاز فعالیتونه ترسره کوي.

**۲- د صرافۍ او پولي خدمتونو د شرکتونو اتحادیه:** د هغو جواز لرونکو صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو مجموعه ده چې غړو شرکتونو د ګډو چارو د حل مسؤلیت پر غاړه لري او د اړوندو مقررو مطابق فعالیت کوي.

**۳- د اسعارو د تبادلې نرخ ټاکلو ځانګړی بازار :** هغه ځای چې د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونو د اتحادیې لخوا د نرخ د ټاکلو لپاره ځانګړی شوی او د بانکونو، صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونو استازي پکې د اسعارو نرخ ټاکلو او تبادلې لپاره ګډون کوي.

**۴- لاس پلورونکی صراف :** هغه شخص (فرد) چې د اړوندو قوانینو او مقررو مطابق، د ځانګړي صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت څخه د اجازې سند ترلاسه کړی وي او په ټاکل شوې سیمه کې د اسعارو د تبادلې فعالیت ترسره کوي.

**۵- د صرافۍ او پولي خدمتونو د شرکت استازی :** هغه شخص یا کارمند چې د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت لخوا د ځانګړي بازار لپاره اړوند اتحادیې ته د ګډون لپاره معرفي وشي.

## ساحه تطبیق

**ماده سوم**

تمام اتحادیه های صرافی و خدمات پولی در افغانستان مکلف اند تا مطابق این طرزالعمل بازار های اختصاصی تعیین نرخ تبادله اسعار را تنظیم و با رعایت احکام این طرزالعمل فعالیت نمایند.

## اصطلاحات

**ماده چهارم**

اصطلاحات ذیل در این طرزالعمل مفاهیم آتی را ارائه می نمایند:

**۱- شرکت صرافی و خدمات پولی:** شخص/اشخاصیکه جواز فعالیت صرافی و خدمات پولی را از دافغانستان بانک دریافت و مطابق قانون و مقرره مربوطه، فعالیت های مجاز را فراهم می نمایند.

**۲- اتحادیه شرکت های صرافی و خدمات پولی:** متشکل از شرکت های صرافی ها و خدمات پولی مجوز بوده و مسؤلیت رسیدگی به موارد مشترک شرکت های تحت اثر/عضو را به عهده داشته و مطابق مقرره مربوطه فعالیت می نماید.

**۳- بازار اختصاصی تعین نرخ تبادله اسعار:** محل که از طرف اتحادیه شرکت های صرافی و خدمات پولی جهت تعیین نرخ تبادله مشخص گردیده و نماینده های بانک ها، شرکت های صرافی و خدمات پولی به منظور تعین نرخ و تبادله اسعار، در آن اشتراک می نمایند.

**۴- صراف دستفروش:** شخص (فرد) که مطابق صراحت قانون و مقرره مربوطه، با کسب اجازه نامه از شرکت صرافی و خدمات پولی مشخص در ساحه تعیین شده به فعالیت تبادله اسعار مبادرت می ورزد.

**۵- نماینده شرکت صرافی و خدمات پولی:** شخص یا کارمند که از طرف شرکت صرافی و خدمات پولی جهت اشتراک در بازار اختصاصی به اتحادیه مربوطه، معرفی گردد.

Da Afghanistan Bank

## دوهم څپرکی
## د ځانګړي بازار د جوړښت څرنګوالی او شرایط

**د ځانګړي بازار جوړښت**

**پنځمه ماده:**

(۱) ځانګړی بازار، د صرافۍ او پولي خدمتونو هغو عمومي بازارونو کې چې په هر ولایت کې ډېر شمېر د صرافۍ او پولي خدمتونو جواز لرونکي شرکتونه شتون ولري او یا د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونو سره د تفاهم له مخې، په ځانګړي ځای کې د لاندې شرایطو مطابق تنظیمیږي:

۱- سیمه/ځای باید خوندي او پوښښ لرونکي وي؛

۲- منظمه څوکۍ او د ملاقات لپاره ځانګړې سیمه ولري؛

۳-د نرخونو او معلوماتو د تنظیم، ثبت او نشر په موخه، سکرتریت ولري.

۴- د سکرتریت لپاره په یاد شوي بازار کې، مناسب ځای په نظر کې نیول کیږي؛

۵- د نرخونو د ښودلو لپاره د بریښنا، سکرین یا الکترونیکي تختې، امنیتي کامرو، تهویې وسایل او په نورو اړینو تجهیزاتو سمبال وي؛

۶- ځانګړي بازار ته د خلکو د داخلېدو او وتلو د نظم او کنټرول لپاره لږ تر لږه یو امنیتي کارکوونکی ګمارل کیږي.

(۲) په هغو ولایتونو کې چې د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونه شمېر ته په کتو (چې پخوا هم د پولي بازار موجود نه وه) او اوس هم د ځانګړي بازار جوړول ته اړتیا نه لیدل کیږي، په اړونده ولایتونو کې د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونه کولای شي چې د اسعارو د تبادلې په معاملو کې د همجواره ولایتونو یا د اړوند زون په مرکز کې د تبادلې نرخونه، تعقیب کړي.

**د ځانګړي بازار د چارو تنظیموونکی**

**شپږمه ماده:**

(۱) د صرافیو او پولي خدمتونو اتحادیه په اړوند مارکېټ کې مکلفه ده چې د ځانګړي بازار اړونده چارې د دې کړنلارې د پنځم مادې د لومړۍ فقرې مطابق تنظیم کړي.

(۲) د اتحادیې دندې او مسؤلیتونه:

۱- د صرافیو او پولي خدمتونو سره همغږي او د دې کړنلارې مطابق د ځانګړي بازار جوړېدل؛

۲- د ځانګړي بازار لپاره د ځای تنظیم او جوړښت؛

## فصل دوم
## چگونگی ایجاد و شرایط بازار اختصاصی

**ساختار بازار اختصاصی**

**ماده پنجم:**

(۱) بازار اختصاصی در مارکیت های عمومی صرافی و خدمات پولی هر ولایت که در آن بیشترین شرکت صرافی و خدمات پولی مجوز موجود باشد و یا حسب تفاهم شرکت های صرافی و خدمات پولی در یک محل خاص با شرایط ذیل تنظیم میگردد:

۱- ساحه /محل مصؤن و دارای پوشش باشد؛

۲- دارای چوکی ها و ساحه ملاقات منظم می باشد؛

۳- به منظور تنظیم، ثبت و نشر نرخ ها و معلومات؛ دارای سکرتریت می باشد؛

۴- برای سکرتریت در بازار یاد شده، مکان مناسب در نظر گرفته می شود؛

۵- مجهز با برق، سکرین یا تخته الکترونیکی جهت نمایش نرخ ها و کمره های امنیتی، وسایل تهویه و سایر امکانات مورد نیاز، می باشد؛

۶- غرض کنترول، نظم و ورود و خروج اشخاص به بازار اختصاصی، حد اقل یک کارکن امنیتی توظیف می باشد.

(۲) در ولایات که با توجه به تعداد شرکت های صرافی و خدمات پولی (که قبلا نیز بازار پولی موجود نبوده) و به ایجاد بازار اختصاصی اکنون نیز ضرورت نیست، شرکت های صرافی و خدمات پولی ولایات مربوطه، میتوانند از نرخ تبادله ولایات همجوار و مرکز زون مربوطه در معاملات تبادله اسعار، پیروی نمایند.

**تنظیم کننده امور بازار اختصاصی**

**ماده ششم:**

(۱) اتحادیه صرافی ها و خدمات پولی در مارکیت مورد نظر، مکلف است تا امور مربوط به بازار اختصاصی را حسب فقره ۱ ماده پنجم این طرزالعمل تنظیم نماید.

(۲) وظایف و مکلفیت های اتحادیه:

۱- هماهنگی با صرافی ها و خدمات پولی و اقدام به ایجاد بازار اختصاصی حسب صراحت این طرزالعمل؛

۲- تنظیم محل و ایجاد بازار اختصاصی؛

Da Afghanistan Bank

۳- د چارو د تنظیمولو او د ځانګړي بازار لګښتونو تامینولو لپاره، د ګډون کوونکو بانکونو، صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونو څخه د غړیتوب حق سنجش او ترلاسه کول؛

۴- ځانګړي بازار په سکرتریت کې د اړتیا له مخې د وړ کسانو ګمارنه؛

۵- د ځانګړي بازار د نظم او امنیت ساتنې لپاره د امنیتي کارکوونکو ګمارنه؛

۶- د ځانګړي بازار کې د اړتیا مطابق، د صفا کار ګمارنه؛

۷- د دې فقرې د ۴، ۵، او ۶ بندونو کې ذکر شوو کارکوونکو لپاره امتیازات ټاکل؛

۸- د بانکونو او اړوند صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو د استازو لپاره د پېژندپاڼې جوړول؛

۹- هر یو استازي ته د اړونده بانکونو، صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو د غوښتنې مطابق، د پېژندن پاڼې وېشل؛

۱۰- د سکرتر د کړنو او د دې کړنلارې د تطبیق څخه ډاډ تر لاسه کول، د ځانګړي بازار له سکرتر څخه راپور اخیستل، او اړین معلومات د افغانستان بانک او نورو اړوندو ادارو سره شریکول؛

۱۱- د دې کړنلارې د پنځمې مادې سره سم، د بودجې تنظیم او اټکل، د لګښتونو وړاندوینه او د ځانګړي بازار لپاره د اړینو امکاناتو برابرول؛

۱۲- اتحادیه مکلفه ده چې د ځانګړي بازار د کړنو او لګښتونو راپور د روڼتیا د تأمین په موخه په دوره یي توګه له غړو سره شریک کړي؛

۱۳- له اړوندو مراجعو سره د معلوماتو شریکول او د هغو ټولنیزو پاڼو په اړه اړین اقدامات ترسره کول چې د نورو اشخاصو، صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو د مختلفو مراجعو لخوا جوړې شوې وي او د اسعارو د تبادلې نرخونه په کې خپریږي؛

۱۴- اتحادیه مکلفه ده چې د نورو غونډو او د اسعارو د تبادلې او نرخ ټاکلو په خپل سري ډول بازارونو د رامنځته کېدو مخنیوی وکړي. په دې اړه، اتحادیې کولای شي چې د اړتیا په صورت کې د امنیتي ارګانونو څخه مرسته وغواړي.

**<u>د ځانګړي بازار د سکرتریت دندې او مسؤلیتونه</u>**

**اوومه ماده:**

د ځانګړي بازار سکرتریت لږ تر لږه لاندې مسؤلیتونه لري:

۳- سنجش و دریافت حق العضویت از بانک ها و شرکت های صرافی و خدمات پولی اشتراک کننده، جهت تنظیم امور و تامین مصارف بازار اختصاصی؛

۴- استخدام اشخاص مستعد در سکرتریت مطابق ضرورت بازار اختصاصی؛

۵- استخدام کارکنان امنیتی جهت نظم و تامین امنیت بازار اختصاصی؛

۶- استخدام صفا کار مطابق ضرورت بازار اختصاصی؛

۷- تعین امتیازات برای کارمندان مندرج بند ۴، ۵ و ۶ این فقره ؛

۸- تهیه کارت هویت برای نماینده های بانکها و شرکت های صرافی و خدمات پولی مربوطه؛

۹- توزیع کارت هویت به هریک از نماینده ها حسب تقاضای بانک و شرکت صرافی و خدمات پولی مربوطه؛

۱۰- حصول اطمینان از اجراآت سکرتر، تطبیق این طرزالعمل و اخذ گزارش از سکرتر بازار اختصاصی و شریک ساختن معلومات لازم با دافغانستان بانک و سایر ادارات ذیربط؛

۱۱- تنظیم و تخمین بودجه، پیش بینی مصارف و تدارک امکانات لازم برای بازار اختصاصی مطابق ماده پنجم این طرزالعمل.

۱۲- اتحادیه مکلف است که گزارش اجراآت و مصارف بازار اختصاصی را جهت تامین شفافیت به طور دوره ای با اعضاء شریک نماید؛

۱۳- شریک نمودن معلومات با مراجع ذیربط و اقدامات لازم در رابطه به صفحات اجتماعی که از طرف سایر اشخاص، صرافی ها و خدمات پولی و مراجع مختلف ایجاد و نرخ تبادله اسعار در آن نشر میگردد؛

۱۴- اتحادیه مکلف است که از سایر تجمعات و ایجاد بازار های خود سرانه در قسمت تبادله و تعیین نرخ اسعار جلوگیری نماید. در این خصوص، اتحادیه میتوانند حسب ضرورت از ارگانهای امنیتی مطالبه همکاری نماید.

**<u>وظایف و مکلفیت های سکرتریت بازار اختصاصی</u>**

ماده هفتم

سکرتریت بازار اختصاصی حد اقل دارای مسئولیت های ذیل می باشد:

۱- د ځانګړي بازار د عملیاتي چارو تنظیم، د معاملاتو د ثبت او د راپورونو لپاره اړینو فارمتونو جوړول؛

۲- هره د تبادلې معامله چې د بانکونو، صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو د استازو ترمنځ په ځانګړي بازار کې د توافق شوي نرخ په اساس ترسره کیږي، د ځانګړي بازار سکرتر لخوا په ځانګړي فارمټ کې ثبت کیږي؛

۳- په سکرین یا بریښنایي تختو کې د وروستي نرخونو خپرول او د نرخونو د بدلون په صورت کې (اپډیټ) نوی کول؛

۴- د ځانګړي بازار په بهر کې د سکرین یا بریښنایي تختې نصب کول چې خلکو او نورو صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو ته د لیدو وړ وي؛

۵- د ځانګړي بازار له رسمي آدرس څخه په ټولنیزو رسنیو (ګروپونو) کې د وروستي تبادلې نرخ خپرول؛

۶- د دې لپاره چې په ځانګړي بازارونو کې بې نظمي او ږغیزه ککړتیا رامنځته نه شي، سکرتریت کولای شي ځانګړي کمپیوټري پروګرامونه وکاروي او هر ګډونوال ته یو یوزر ورکړي؛

۷- په ځانګړي بازار کې د اسعارو په فزیکي ډول د تبادلې اجازې نشتون په اړه د اطلاعیو خپرول او نور اړینو ګامونو پورته کول؛

۸- اړوند اتحادیې ته د دورهیي راپور وړاندې کول؛

۹- د افغانستان بانک د لارښوونې سره سم په ټاکلي وخت کې د اړوند یوزر سیستم له لارې د تبادلې نرخ راپور شریکول؛

۱۰- د ځانګړي بازار په اړوند، هغه نور قانوني دندو ترسره کول چې د اتحادیې له لوري ور سپارل کیږي؛

۱۱- د بازار ګډونوالو ته د دوی د مسؤلیتونو، د معاملو د ترسره کولو طریقې، په بازار کې د نصب شویو وسایلو د کارولو او نورو اړینو موضوعاتو په اړه د منظمې پوهاوي ورکولو برنامې برابرول.

<u>**د امنیتي کارکوونکي دندې او مسؤلیتونه**</u>

**اتمه ماده:**

امنیتي کارکوونکې لږ تر لږه لاندې مسؤلیتونه لري:

۱- کاري ساعتونو سره سم د ځانګړي بازار پرانیستل او تړل؛

۱- تنظیم امور عملیاتی بازار اختصاصی، ایجاد فارمت های لازم برای ثبت معاملات و گزارش ها؛

۲- هر معامله تبادله که بین نماینده های بانکها، شرکت های صرافی و خدمات پولی در بازار اختصاصی با قیمت توافقی صورت میگیرد، از طرف سکرتر بازار اختصاصی در فارمت مخصوص ثبت میگردد.

۳- نشر آخرین نرخ های تبادله اسعار در سکرین یا تخته الکترونیکی و بروز (ابدیت) نمودن آن در صورت تغیر در نرخ ها؛

۴- نصب سکرین یا تخته الکترونیکی در بیرون از بازار اختصاصی که قابل دید برای مردم و سایر شرکت های صرافی و خدمات پولی باشد؛

۵- نشر آخرین نرخ تبادله در صفحات (گروپ های اجتماعی رسمی از آدرس بازار اختصاصی؛

۶- برای اینکه بی نظمی و آلودگی صوتی در بازارهای اختصاصی به وجود نیاید، سکرتریت از برنامه های کمپیوتری مخصوص با فراهم سازی یوزر به هر اشتراک کننده استفاده می تواند؛

۷- نشر اطلاعیه و اتخاذ سایر اقدامات لازم مبنی بر مجاز نبودن تبادله اسعار بشکل فزیکی در محل بازار اختصاصی؛

۸- ارائه گزارش های دوره ئی به اتحادیه مربوطه؛

۹- شریک ساختن گزارش نرخ تبادله حسب رهنمود در وقت معیینه از طریق یوزر سیستم مربوطه دافغانستان بانک؛

۱۰- انجام سایر وظایف قانونی مرتبط به بازار اختصاصی که از طرف اتحادیه مربوطه محول می گردد.

۱۱- تدویر برنامه های آگاهی دهی دوره ای به اشتراک کنندگان بازار در مورد مسئولیت های آنها، نحوه انجام معاملات و استفاده از وسایل نصب شده در بازار و سایر موارد حسب ضرورت.

<u>**وظایف و مکلفیت های کارکن امنیتی**</u>

**ماده هشتم:**

کارکن امنیتی حد اقل دارای مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- باز و مسدود نمودن بازار اختصاصی مطابق اوقات کاری؛

Da Afghanistan Bank
Governor's office Department

۲- د بانکونو او صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو وړاندې کوونکو استازو ته د اتحادیې څخه د ځانګړي کارت په درلودلو سره، د داخلیدو اجازه ورکول؛
۳- د امنیتي او عامه نظم له اړخه د ځانګړي بازار او سیمې کنټرول؛
۴- د غیر مسؤلو کسانو او د یو شرکت لخوا څو استازو د هممهاله ګډون څخه مخنیوی؛
۵- د سکرتریت او اتحادیې د لارښوونو مطابق نور اړوند اقدامات.

**په ځانګړي بازار کې د ګډون لپاره شرایط**

**نهمه ماده:**

(۱) د بانکونو، او جواز لرونکي صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو استازي چې له مخې د ځانګړي بازار تنظیم کوونکې مسؤلې اتحادیه ته معرفي شوي وي، کولی شي په ځانګړي بازار کې ګډون وکړي؛

(۲) د ځانګړي بازار ګډون کوونکي مکلف دي چې د غړیتوب حق اړوند اتحادیې ته ورکړي؛

(۳) د بازار د عملیاتي لګښتونو لپاره د غړیتوب حق د اتحادیې لخوا ارزول او ټاکل کیږي؛

(۴) بانکونه، د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکتونه چې غواړي په ځانګړي بازار کې ګډون وکړي، مکلف دي چې د ګډون څخه مخکې د خپلو استازو لپاره د اړوند اتحادیې څخه د هویت کارت ترلاسه کړي؛

(۵) بانکونه، صرافیو او پولي خدمتونو شرکتونو وړاندې کوونکي کولای شي د خپلو دريو استازو لپاره د اړوند اتحادیې څخه د هویت کارت ترلاسه کړي، خو یاد استازي نشي کولای په یو وخت کې په ځانګړي بازار کې ګډون وکړي؛

(۶) د استازو د ګډون لپاره مکلفیتونه او شرایط:
۱- استازی په ځانګړي بازار کې د ګډون پر مهال ځانګړی کارت لري او دا کارت به په دوامداره توګه په غاړه اچول شوی او له ځان سره ګرځوي؛
۲- په یو وخت کې د بانک، صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت یو استازی کولی شي چې په ځانګړي بازار کې ګډون وکړي؛
۳- استازی نشي کولی چې په ځانګړي بازار کې نقدي معاملې ترسره کړي؛
۴- استازي نشي کولي چې د اسعارو نرخونو د خپل ټولنیزو او تجارتي پاڼو کې خپور کړي؛

۲- اجازه ورود به نماینده های بانکها و شرکت های صرافی و خدمات پولی دارنده کارت مخصوص که از طرف اتحادیه مربوط صادر شده باشد؛
۳- کنترول ساحه و بازار اختصاصی از لحاظ امنیتی و نظم عمومی؛
۴- جلوگیری از ورود اشخاص غیر مسئول و چندین نماینده یک شرکت بطور همزمان؛
۵- سایر اجراآت مطابق هدایت سکرتریت بازار اختصاصی و اتحادیه مربوطه.

**شرایط اشتراک در بازار اختصاصی**

**ماده نهم**

(۱) نمایندگان بانکها، شرکت های صرافی و خدمات پولی مجوز که قبلاً به اتحادیه مسئول تنظیم بازار اختصاصی، معرفی شده باشند، میتوانند در بازار اختصاصی اشتراک نمایند؛

(۲) اشتراک کننده گان در بازار اختصاصی مکلف اند حق العضویت را به اتحادیه مربوط، پرداخت نمایند؛

(۳) حق العضویت جهت مصارف عملیاتی بازار توسط اتحادیه سنجش و تعیین میگردد؛

(۴) بانکها، شرکت های صرافی و خدمات پولی که خواهان اشتراک در بازار اختصاصی باشند، قبل از اشتراک برای نماینده/نماینده های خویش کارت هویت را از اتحادیه مربوط، اخذ می نمایند.

(۵) بانکها و شرکت های صرافی و خدمات پولی میتواند برای سه تن نماینده خویش کارت هویت از اتحادیه مربوطه اخذ نمایند، اما نماینده های مذکور نمی توانند که همزمان در بازار اختصاصی اشتراک نمایند.

(۶) مکلفیت ها و شرایط اشتراک برای نماینده ها:
۱- نماینده حین اشتراک در بازار اختصاصی دارای کارت مخصوص می باشد و کارت را به طور دوامدار در گردن آویزان و با خود حمل می کند؛
۲- در یک وقت، صرف یک نماینده بانک و شرکت صرافی و خدمات پولی در بازار اختصاصی اشتراک میتواند؛
۳- نماینده نمی تواند به طور نقد در بازار اختصاصی معامله انجام دهد؛
۴- نماینده نمی تواند نرخ اسعار را در صفحات اجتماعی و تجارتی خویش نشر نماید؛

Da Afghanistan Bank
Governor's office Department

۵- استازي نشي کولای چې په نرخونو کې جوړجاړی وکړي او یا د نرخونو په زیات بدلون کې لامل شي؛

۶- د پیر او پلور په صورت کې وروسته له تفاهم څخه، دواړه اړخونه به خپل حسابونه د خپلو شرکتونو په دفترونو کې تصفیه کوي؛

۷- استازي مکلف دي چې د تبادلې معاملو د ترسره کولو په صورت کې اړین معلومات د ځانګړي بازار سکرتریت سره شریک کړي.

## د تبادلې نرخ د ټاکلو څرنګوالی

**لسمه ماده:**

(۱) د اسعارو وړاندې کوونکی او غوښتونکی د اسعارو د پېر او پلور مبلغ او نرخ په روښانه ډول اظهاروي؛

(۲) که چیرې پېرودونکي یا پلورونکي د اظهار شوي نرخ په اساس غوښتنه ولري، معامله به د دواړو اړخونو ترمنځ ترسره کیږي.

(۳) که یو پلورونکي ته یو شمیر پیرودونکي په یو شان نرخ علاقه وښيي، لومړیتوب به هغه چا ته ورکول کیږي چې مخکې یې غوښتنه کړې وي او که حالت برعکس وي، نو هم به له همدې طریقې کار واخیستل شي؛

(۴) ګډونوال پرته له ریښتیني غوښتنې یا عرضې څخه نشي کولای چې د اسعارو پیرود او پلور او یا د نرخونو په اړه اظهار وکړي.

## د ځانګړي بازار د کاري وختونه

**یولسمه ماده:**

(۱) د ځانګړي بازار کاري وختونه هره ورځ د سهار په ۹:۰۰ بجو پیل کیږي او د مازدیګر په ۴:۳۰ بجو پای ته رسیږي؛

(۲) د ۱۲:۳۰ څخه تر ۱:۳۰ پورې د لمانځه او د ډوډۍ لپاره وقفه وي؛

(۳) په نورو ورځو کې د رخصتۍ په صورت کې، سکرتریت به موضوع یوه ورځ مخکې ټولو ګډونوالو ته خبر ورکړي.

۵- نماینده ها نمی توانند در تعیین نرخ ها تبانی نموده و یا سبب نوسانات شدید در نرخ ها گردند؛

۶- در صورت خرید و یا فروش، بعد از تفاهم؛ طرفین حسابات خویش را در دفاتر کاری شرکت های خویش تصفیه می نمایند؛

۷- نماینده ها مکلف اند در صورت انجام معامله تبادله؛ معلومات لازم را با سکرتریت بازار اختصاصی شریک نماید.

## نحوه تعیین نرخ مبادله

**ماده دهم:**

(۱) عرضه کننده اسعار و یا تقاضا کننده اسعار به طور واضح مبلغ خرید و یا فروش اسعار و نرخ آنرا اظهار می نماید؛

(۲) درصورتیکه خریدار و یا فروشنده ای برای معامله به نرخ اظهار شده اعلان حضور کرد، معامله میان دو طرف صورت میگیرد؛

(۳) درصورتیکه برای یک فروشنده چند خریدار با نرخ یکسان اظهار علاقه مندی نمود، به شخص که تقدم نموده، اولویت داده می شود و در صورت برعکس آن نیز از همین روش پیروی می شود؛

(۴) اشتراک کنندگان نمی توانند بدون داشتن تقاضا/عرضه واقعی اقدام به اظهار خرید و یا فروش اسعار و یا در رابطه به نرخ ها نمایند.

## اوقات کاری بازار اختصاصی

**ماده یازدهم:**

(۱) اوقات کاری بازار اختصاصی در هر روز کاری از ساعت ۹:۰۰ صبح آغاز گردیده و ساعت ۴:۳۰ عصر پایان می یابد؛

(۲) در جریان ساعت ۱۲:۳۰ الی ۱:۳۰ برای ادا نماز و صرف غذای چاشت تعطیل می باشد؛

(۳) در صورت تعطیل در سایر روزها، سکرتریت موضوع را یک روز قبل به اطلاع همه اشتراک کنندگان بازار اختصاصی می رساند.

Da Afghanistan Bank
Governor's office Department

## دریم څپرکی
## متفرقه موارد

**شکایتونو او ستونزو ته رسیدنه**

**دوولسمه ماده:**

(۱) استازي کولای شي چې ستونزې، شکایتونه او د ځانګړي بازار د ښه‌والي په موخه خپل نظریات د سکرتریت یا اړوندې اتحادیې سره شریکې کړي.

(۲) سکرتریت او اړونده اتحادیه مکلف دي چې د استازو شکایتونه او ستونزې د نافذه قوانینو او مقررو په رڼا کې وڅېړي او د هغوی د نظریاتو په پام کې نیولو سره د بازار د ښه‌والي لپاره اړین ګامونه ترسره کړي.

**د کړنلارې تعدیل**

**دیارلسمه ماده:**

(۱) اړوندې اتحادیې کولای شي چې د دې کړنلارې د ښه‌والي لپاره خپل نظریات او وړاندیزونه په لیکلي ډول د شهزاده سرای اتحادیې سره شریک کړي.

(۲) د شهزاده سرای اتحادیه کولای شي لږ تر لږه په کال کې یو ځل یا د اړتیا له مخې، دغه کړنلاره مرور او د نورو اتحادیو نظریاتو ته په کتو سره یې تعدیل کړي او د تایید لپاره یې د افغانستان بانک ته واستوي.

**انفاذ**

**څوارلسمه ماده:**

دغه کړنلاره د افغانستان بانک د تائیدی څخه وروسته، د هېواد په ټول ولایاتو کې د تطبیق وړ دی.

## فصل سوم
## موارد متفرقه

**رسیدگی به شکایات و مشکلات**

**ماده دوازدهم:**

(۱) نماینده ها میتوانند مشکلات، شکایات و ملاحظات در خصوص بهبود بازار اختصاصی را با سکرتریت و یا اتحادیه مربوطه شریک نمایند؛

(۲) سکرتریت و اتحادیه مربوطه مکلف اند در قسمت مشکلات و شکایات نماینده ها در پرتو قوانین و مقررات نافذه رسیدگی نموده و حسب ملاحظات ایشان در خصوص بهبود اقدام لازم نمایند.

**تعدیل طرزالعمل**

**ماده سیزدهم**

(۱) اتحادیه های مربوط میتوانند به منظور بهبود طرزالعمل، نظریات و ملاحظات خویش را کتباً با اتحادیه سرای شهزاده شریک نمایند؛

(۲) اتحادیه سرای شهزاده میتواند حداقل سال یکبار و یا حسب ضرورت این طرزالعمل را مرور و بادرنظرداشت ملاحظات و نظریات سایر اتحادیه ها، تعدیل نموده و غرض تایید به دافغانستان بانک ارسال نماید.

**انفاذ**

**ماده چهاردهم:**

این طرزالعمل بعد از تایید دافغانستان بانک، در تمام ولایات کشور قابل تطبیق می باشد.